وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ المَالُ حَتَّى لاَ يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». «قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، نږدې ده چې په تاسو کې به عيسې زوی د مريمې په عدالت قايمولو سره راښکته شي، صليب به مات کړي او خنزير به ووژني، جزيه به وټاکي، او مال به دومره پراخه شي چې هېڅوک به يې (د صدقې په حېث) نه قبلوي

له أبوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دي وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ المَالُ حَتَّى لاَ يَقْبَلَهُ أَحَدٌ». «قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، نږدې ده چې په تاسو کې به عيسې زوی د مريمې په عدالت قايمولو سره راښکته شي، صليب به مات کړي او خنزير به ووژني، جزيه به وټاکي، او مال به دومره پراخه شي چې هېڅوک به يې (د صدقې په حېث) نه قبلوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه قسم يادوي چې د عيسى عليه السلام د راکوزېدو وخت نږدې شوی دی تر څو خلکو کې د محمدي شريعت په رڼا کې په عدل فيصله وکړي. او دا چې دی به هغه صليب ماتوي چې مسيحيان يې درناوی کوي. او دا چې عيسى عليه السلام به خنزير ووژني. او دا چې هغه عليه السلام به جزيه ږدي، او ټول خلک به اړباسي تر څو په اسلام کې داخل شي. او دا چې مال به دومره زيات شي چې د زياتوالي له امله به يې هېڅوک نه اخلي؛ د ډېر والي له وجې، او هر څوک به په هغه څه به بې نيازه وي چې په لاس کې يې لري، او دا چې پرلپسې برکتونه او خيراتونه به نازل شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65025